**DRC Dansk Flygtningehjælp**
Lyngbyvej 100
Indgang: Asyl og Repatriering
DK 2100 København Ø
Danmark
T: +45 3373 5000
drc@drc.ngo
www.drc.ngo

DRC DANISH REFUGEE COUNCIL

**د ډوبلين په طرزالعمل کې بې سرپرسته ماشومان**

ايا تاسو کوچنی ماشوم  یاست؟ او ايا تاسو د ډوبلين د طرزالعمل له لارې ډنمارک ته د راتلو څخه منع شوي یاست، که څه هم تاسو دلته کورنی لرئ؟ بیا تاسو اپیل کولی شئ. د نورو معلوماتو لپاره د DRC ډنمارک د کډوالو شورا سره اړیکه ونیسئ.

کله چې ماشومان د خپلو والدينو يا نورو لويانو پرته چې د دوی مسؤليت لري پناه غواړي، دغه ماشومان بې سرپرسته بلل کيږي.

د ډوبلين مقررات وايي چې د بې سرپرسته ماشومانو د پناه غوښتنې قضيه بايد د اروپايي اتحاديې په هغه هيواد کې ترسره شي چيرې چې دوی د کورنۍ غړي يا خپلوان لري چې په قانوني توګه ژوند کوي، که دا د ماشوم په غوره ګټو کې وي. د کورنۍ غړي کولی شي، د مثال په توګه، والدين، ورونه او خوويندی، خاله ، عمه، تره یا نيکه وي.

دا پدې مانا ده چې د اروپايي اتحاديې هيوادونه کولی شي د ډوبلين مقرراتو څخه کار واخلي ترڅو بې سرپرسته ماشومان د دوی د کورنۍ غړو يا خپلوانو سره یوځای کړي.

يومثال کيدی شي دا وي چې يو بې سرپرسته ماشوم په يونان کې پناه غواړي او په ډنمارک کې مور او پلار، ورونه يا خپلوان لري. په دې حالت کې، يوناني چارواکي کولی شي د ډنمارک د مهاجرت د خدماتو اداری څخه وغواړي چې د ماشوم د پناه غوښتنې د قضيې مسؤليت په غاړه واخلي او ماشوم ته اجازه ورکړي چې ډنمارک ته راشي.

که چيرې د ډنمارک د مهاجرت د خدمت اداره ماشوم ته د ډنمارک ته د راتلو اجازه ورنکړي، ماشوم کولی شي اپيل وکړي.

**زه څنګه اپیل وکړم؟**

د DRC ډنمارک د کډوالو شورا د ډنمارک د ډوبلين په طرزالعمل کې ټولو پناه غوښتونکو ته وړيا قانوني مشوره او استازيتوب وړاندې کوي چې غواړي د ډنمارک د مهاجرت خدماتو اداری لخوا د شوي پريکړې په اړه اپيل وکړي.

په نورمال ډول، يوازې هغه پناه غوښتونکي چې دمخه په ډنمارک کې ژوند کوي کولی شي د ډنمارک د مهاجرت خدماتو اداری لخوا د شوي ډوبلين پريکړې په اړه اپيل وکړي.

په هرصورت، دا ممکنه ده چې بې سرپرسته ماشومان اپيل وکړي که چيرې دوی په بل اروپايي هيواد کې د پناه غوښتنه کړې وي او د ډنمارک د مهاجرت د خدماتو اداره دوی ته اجازه نه ورکوي چې ډنمارک ته راشي ترڅو په ډنمارک کې د کورنۍ غړو يا خپلوانو سره يوځای شي.

په داسې حالت کې، ماشوم ته به د اپیل کولو او د DRC ډنمارک د کډوالو شورا څخه د مرستې ترلاسه کولو امکان په اړه خبر ورکړل شي. دا مهمه ده چې ماشوم ژر تر ژره اپيل وکړي او د 7 ورځو په موده کې چې ماشوم د ډنمارک د مهاجرت د خدماتو د اداری پريکړه ترلاسه کړي.

د ډوبلين په طرزالعمل کې د بې سرپرسته ماشومانو د قانوني مشورې او استازيتوب په اړه د نورو معلوماتو لپاره د DRC ډنمارک د کډوالو شورا سره اړيکه ونيسئ. موږ سره د advice@drc.ngo يا د 45 33735000 + تليفون له لارې اړيکه نيول کيدی شي.